**بسم الله الرحمن الرحيم**

# په قرآن کې له معنی پرته زيادت نشته

**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

**السلام عليکم و رحمت الله و برکاته!**

د دې خبرې صحت څومره دی؟ د نحوې او بلاغت دوو علماوو تر منځ د (أنْ) حرف په اړه د نظر اختلاف او مناقشه پيداه شوې چې هغه بلاغي عالم "ابن اثير" دی او د دوی د مناقشي مثال د الله سبحانه وتعالی دغه قول دی:

**﴿فَأَصْبَحَ فِى ٱلْمَدِينَةِ خَآئِفاً يَتَرَقَّبُ فَإِذَا ٱلَّذِى ٱسْتَنصَرَهُۥ بِٱلْأَمْسِ يَسْتَصْرِخُهُۥ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِىٌّ مُّبِينٌ (18) فَلَمَّا أَنْ أَرَادَ أَنْ يَبْطِشَ بِالَّذِي هُوَ عَدُوٌّ لَهُمَا قَالَ يَا مُوسَىٰ أَتُرِيدُ أَنْ تَقْتُلَنِي كَمَا قَتَلْتَ نَفْساً بِالْأَمْسِ...﴾** [قصص: 18-19]

*__ژباړه:__ موسی په ښار کې په وېره شپه تېره کړه، ناڅاپه يې وليدل چې همغه سړی چې پرون يې مرسته ترې غوښتې وه، بيا ده فرياد کاوه او مرسته يې ترې غوښته. موسی ورته وويل ته په ښکاره ګمراه يې. کله چې موسی وغوښتل له هغه چا سره چې د دواړو دښمن و، په جنګ شي، هغه وويل: ايا ته غواړې ما ووژنې لکه پرون دې چې يو کس وواژه؟*

نحوي ويلي دي: لومړی (أنْ) زائد دی؛ که حذف شي، ويل کېږي: **﴿فلمّا أراد أن يبطش﴾** او په دغه حالت معنی همغه معنی ده او بدلون نه پکې راځي لکه د الله سبحانه وتعالی دغه قول: **﴿فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَى وَجْهِهِ﴾** ټولو نحوي علماوو پر دې اتفاق کړی چې کله (أنْ) تر "لما" وروسته او تر فعل مخکې واقع شي، زائد دی؛ خو "ابن اثير" د نحوي علماوو پر رد ويلي دي چې د نحوې علماء په بلاغت او فصاحت کې فهم نه لري او د فصاحت او بلاغت اسرار نه پېژني؛ په داسې حال کې چې نحوي علما دې پايلې ته رسېدلي چې کله (أنْ) تر "لما" وروسته او تر فعل مخکې په قرآن کريم او يا د "فصحاوو" په کلام کې واقع شي، معنی همغه معنی ده چې د سقوط په حالت کې يې ده. له همدې امله يې ويلي چې (أنْ) حرف زائد دی؛ حال دا چې واقعيت داسې نه دی؛ بلکې کله چې "لما" ذکر شو او تر "لما" وروسته "أنْ" حرف راشي او تر "أنْ" حرف وروسته فعل راشي دا پر دې دليل دی چې موسی عليه السلام د دويم شخص پر قتل مبادرت نه دی کړی، لکه د لومړي پر قتل يې چې کړی؛ بلکې د هغه له وژلو يې لاس اخيستی دی. له همدې امله قرآن کريم داسې تعبير کړی دی: **﴿فَلَمَّا أَنْ أَرَادَ أَنْ يَبْطِشَ﴾** تر "لما" وروسته د "أنْ" په زياتېدو او کله چې فعل تر "لما" وروسته د "أنْ" په سقوط واقع شي، پر دې دلالت کوي چې فعل په فوري ډول دی او "ابن اثير" خپله مناقشه په دغه قول پای ته رسولې ده: دا مسايل، باريک مسايل دي چې له نحويونو څخه يې د فهم تمه نه کېږي؛ ځکه نحويون د دې وړتيا نه لري ده چې دا ډول مسايل ذکر کړي. پوښتنه دا ده: څه چې "ابن اثير" په دې اړه ويلي دقيق دي؟ که د "ابن اثير" خبرې دقيقې نه وي؛ نو آيا په قرآن کريم زائد کلام شته؟

**ځواب:**

**و عليکم السلام و رحمة الله و برکاته!**

ښکاري چې د "ابن اثير" مناقشه او د مناقشې موضوع يې بشپړه نه ده ذکر شوې... څنګه چې زه د مسئلې په اړه فکر کوم، موضوع په لاندې ډول ده:

دغه آيت کريمه **﴿فَلَمَّا أَنْ أَرَادَ أَنْ يَبْطِشَ بِالَّذِي هُوَ عَدُوٌّ لَهُمَا﴾** دوې مسئلې لري، چې د دغو دوو مسئلو فهم اړين دی او د (أن يبطش) او (فلما أن) په برخه کې دی:

1- لومړی "أن" ناصب حرف چې پر مضارع فعل داخل شوی، دغه حرف، مصدري، ناصب او مستقبل حرف دی؛ يعني دغه حرف خپل مابعد په تأويل مصدر ګرځوي؛ مثلاً؛ **﴿يُرِيدُ اللهُ أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ﴾** په تأويل **(يريد الله التخفيف عنكم)** کېږي او دغه حرف مضارع ته نصب ورکړی؛ خو دغه حرف مستقبل حرف دی، ځکه چې مضارع د استقبال په معنی خالصوي.

په همدې توګه د مضارع فعل ټول ناصبه حروف. خو مضارع فعل د ناصبه حرف له دخول پرته د حال او استقبال احتمال لري؛ نو له دې امله چې د ناصبه حرف معنی پورته ذکر شوې؛ د ﴿أَرَادَ أَنْ يَبْطِشَ بِالَّذِي هُوَ عَدُوٌّ لَهُمَا﴾ معنی ته ترجيح ورکول کېږي چې موسی عليه السلام د شخص فوري نيولو لپاره بيړه نه ده کړې؛ بلکې په دې فکر کې شوی چې ويې نيسي؛ ځکه نص وايي ﴿أَرَادَ أَنْ يَبْطِشَ﴾ او ويې نه ويل (أراد يبطش)؛ که داسې نه وای د حال او استقبال احتمال يې درلود، يعنې د تصميم نيولو لپاره يې د بيړې او فکر کولو معنی افاده کوله. نو له همدې امله داسې قرينې ته اړتيا وه چې حال او مستقبل فعل ته مو ترجيح ورکړې وای؛ خو ﴿أَرَادَ أَنْ يَبْطِشَ﴾ جمله د استقبال لپاره ده، نه د حال؛ يعنې د فکر کولو له کم مهلت وروسته؛ که څه هم کم وي.

2- خو تر "لما" وروسته د "أن" استعمال له ژبني او لفظي اړخه زائد دی؛ ځکه "لما أن أراد" د ژبني جوړښت له مخې د "لما أراد" غوندې دی؛ خو "أن" حرف د خاصې معنی په موخه اضافه شوی چې په بطش او نيولو تاکيد دی؛ يعنی تر "أن" وروسته تاکيد او په نيولو کې بيړه نه کول او د يوه فکر پر اساس او ځنډ کول دي که څه هم چې د وخت له نظره کم وي.

3- په همدغه ترتيب لومړی "أن" چې په آيت کې "أن أراد" د ژبني جوړښت له مخې زائد دی؛ خو د خاص هدف لپاره چې له "أن" څخه وروسته راغلي بطش او نيولو کې پر ځنډ تاکيد کې ونه ويل شي چې تاکيدکوونکی عامل له زماني او د ژبني جوړښت له اړخه تر موکد وروسته په فتحه واقع کېږي؛ لکه ﴿فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ﴾ چې دغه تاکيد زماني دی او موکد ته نږدې په فتحه ذکر شوی لکه ("جاء جاء علي" أو"لا، لا أبوح بالسر"؛ علي راته راغی او يا نه، نه زه راز نه افشا کوم) چې له جوړښتي نظره دا دوه مثالونه تاکيد دی... هو، دا صحيح دی؛ خو کله چې تاکيد د تاکيد له باب څخه مترادف وي، جايزه ده چې په فتحه موکد او په کسره موکد د تقديم او تاخير په پام کې نيولو پرته يو ځای ذکر شي... په همدغه ترتيب (فلما أن أراد) ځنډ او مهلت ورکول افاده کوي؛ يعني په بيړنی توګه نه وي او همدارنګه (أن يبطش) چې مضارع منصوب فعل دی او دا ناصبه حرف هغه په مستقبل پورې مخصوصوي، د مترادف تاکيد له باب څخه دی. نو "أن" په (فلما أن أراد) جمله کې دا قول ممکنوي چې لغتاً زائد ورته ووايو؛ خو دغه زيادت د تأکيد لپاره دی چې د (أن يبطش) په لور مترادف تاکيد دی، چې موسی عليه السلام خپل دښمن او مقابل طرف په فوري توګه ونه نيوه؛ بلکې په دې برخه کې يې فکر وکړ او مهلت يې ورکړ...

4- خو آيا په قرآن کريم کې زائده حروف شته که نه؟ که د حرف د زيادت موخه له معنی پرته زيادت وي، زه دا نظر ردوم؛ نو زما په نظر په قرآن کريم کې له معنی پرته هېڅ زائد حرف نشته. ما خپل کتاب (التيسير في أصول التفسير - سورة البقرة) کې يادونه کړې او د ﴿فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ﴾ آيت په تفسير کې داسې راغلي: «په قرآن کريم کې له معنی پرته تکرار او زيادت نشته. له همدې امله هر څه چې په قرآن کريم کې راغلي او په ښکاره تکرار او زيادت ښکاري، په حقيقت کې زائد نه دی، بلکې د ځانګړې معنی په موخه اضافه شوی، لکه (مِن) چې په دغه مبارک آيت کې د تاکيد معنی يعني د تېر چلنج تاکيد معنی افاده کوي.»

خو که له زائده حروفو څخه موخه هغه حروف وي چې د هدف لپاره ذکر شوي، دا حروف په قرآن کريم کې شته دي لکه په بقره سوره کې د الله سبحانه و تعالی دغه قول: ﴿فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ﴾، دلته "من" له لغوي او ژبني اړخه زائد دی خو له معنوي لحاظه بې معنی نه دی؛ بلکې دا حرف زماني تاکيد افاده کوي، يعني د يوه تېر امر لپاره دی. يعني دا چلنج د دغه آيت تر نزول وړاندې وارد شوی و، وروسته د "من" کلمه د دغه آيت تر ذکر کولو وروسته د پخواني چلنج تاکيد افاده کوي. د دغه کتاب په آياتونو کې په تدبر کولو سره روښانه کېږي چې دغه چلنج تر هغه مخکې په مکه مکرمه کې په يونس سوره کې نازل شوی دی: ﴿أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِثْلِهِ﴾ او يونس سوره مکي او بقره سوره مدني ده، چې تر يونس سورې وروسته نازله شوې ده. نو د بقره سورت آيت د يونس سورت د آيت لپاره تاکيد دی، چې تر هغه مخکې نازل شوی او دغه تاکيد د "من" په زيادت حاصلېږي، چې په بقره سوره کې ذکر شوی او تر هغه مخکې په يونس سوره کې نازل شوی و. نو دغه حرف د خپل ماقبل چلنج تاکيد افاده کوي او بې معنی نه دی.

زه دغه مسئله کې داسې فکر کوم چې په قرآن کې هېڅ زيادت بې معنی نه دی او الله سبحانه وتعالی تر ټولو عالم او باحکمته دی.

**ستاسو ورور عطاء بن خليل ابوالرشته**

**۱۴۴۴هـ.ق، د ربیع‌الاول ۴مه**
**۲۰۲۲م، د سپتمبر ۳۰مه**

**د لینک لپاره:**

زما په نظر په قرآن کریم کې له معنی پرته هېڅ زائد حرف نشته. ما په خپل کتاب (التیسیر في أصول التفسیر - سورة البقرة) کې یادونه کړې او د ﴿فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ﴾ آیت په تفسیر کې داسې راغلي: «په قرآن کریم کې له معنی پرته تکرار او زیادت نشته. له همدې امله هر څه چې په قرآن کریم کې راغلي او په ظاهراً تکرار او زیادت ښکاري، په حقیقت کې زائد نه دی، بلکې د ځانګړې معنی په موخه اضافه شوی، لکه (مِن) چې په دغه مبارک آیت کې د تاکید معنی یعنې د تېر چلنج تاکید معنی افاده کوي.»

خو که له زائده حروفو څخه موخه هغه حروف وي چې د هدف لپاره ذکر شوي، دا حروف په قرآن کریم کې شته دي لکه په بقره سوره کې د الله سبحانه و تعالی دغه قول: **﴿فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ﴾**...